مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۳/۲۶

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۵۶ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایدیت:
ډاکټر لودویگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **لونډي**: [1]: ۵۴ – ۳۴، ۴۵ – ۶۹ «ن»: دا د کاپیسا په ولایت کې د تګاب د شمال ختیځ په شاوخوا ۱۰ مایلی کې د تګاب د یوي خانګي د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

**لون کد**: [2]: ویل سوي چي دا له جلال آباده ۱۳۶ مایله لیرې د الینګار د سیند د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی چې د «ومر» [3] کفارو ۵۰۰ کورونه لري. (لیچ)

**لچه خان**: [4] : ۴۴ – ۳۴، ۸ – ۶۹ «ن»: دا په کوهدامن کې یو کلی دی چې ۸۰ کلي لري. «کینلاچ» اوسنی نقشې د «لچکان» [5] نوم ښیي. (لودویګ آدمک)

* **لودین کلی**: ۷ – ۳۲، ۲۸ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د شینکي غرهٔ په شمال – شمال لویدیځ کې د شیرزي کلي ته نیږدې یو کلی دی.

[1] -LOMAN
[2] -LON KAD
[3] -Wamar
[4] -UCHA KHAN
[5] -Lochakan


افغان جرمن آنلاین په درنښت ټاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**لوجي**: وګورئ: لاجي

**لـُـخ** : [6]: ۳۳ – ۳۴، ۲۷ – ۶۷ «ن»: دا د باميانو په ولايت کې د «درۀ شورشوري» [7] په شمال کې «تلخک» [8] ته نېـږدې يو کلی دی.

**لخي**: [9]: – ۳۴، – ۶۹: لوړوالی: ۴۷۰۰ فيټه. دا د ګندمک او جګدلک تر منځ د سړک په اوږدو کې يو ټکی دی چې له ګندمک څخه شاوخوا ۹ مايله ليرې دی. دلته د سرخاب د سيند له ښۍ غاړه څخه په يو نيم مايلۍ کې يو شمـېـر همواري ځمکې دي چې د کمپ وهلو لپاره ښـهٔ ځايونه دي او يو مايل لويديځ کې د زاړهٔ «پيزوان» [10] پوستې ته نېـږدې د ۲ ليواګانو لپاره ځای سته چې واحدونه ئـې بايد تيت سي. دوه سيندونه دې ځای ته پريمانه اوبـهٔ ورکوي او د اوبو يوه چينه سته چې د همدې پوستې په شمال لويديځ کې واقع ده او کولای سي د ۱۰۰۰ تنو جنګياليو لپاره د ښناک اوبـهٔ ورکړي. د اوبو د دې چينې موقعيت ښـهٔ په نښه سوی دی چې د غرهٔ په توري ډډې کې د شنو ونو يوه لاره ئـې له ځنګه تـېـره سوې ده. اړتيا توکي يوازې په سختۍ سره ورڅخه ترلاسه کېدای سي. د حصارک له درې څخه واښـهٔ تر لاسه کيدای سي؛ سون توکي په کې په ندرت دي. (ميلسن)

**لخي**: يا: پيزوان : [11]: ۲۱ – ۳۴، ۵۲ – ۷۰ «ج»: لووړوالی: ۵۱۸۰ فيټه. دا د ګندمک او جګدلک تر منځ يو کوتل دی چې له ګندمک څخه ۱۱ مايله او له جګدلک څخه ۱۰ مايله ليرې واقع دی. دا کوتل يو ډېـر مسلط موقعيت لري او له همدې ځايه له جګدلک او ګندمک سره او هم د «کرکچه د غرونو» [12] په هر موقعيت چې غورهٔ سي، هيلوګرافيکي اړيکه ټينګيدای سي.

د کوتل د تاج له سره د ګندمک په خوا کې يو نيم مايل ليرې د يوې پوستۍ وراني شوني او کنډوالي دي چې د افغان د دوهمې جګړې په لړ کې ودانه سوې وه او معمولاً د ۵۰۰ تنو سرتـېـرو قرارګاه وه.

د پيزوان نوم اوس «۱۹۰۷ز کال» په سيمه کې يو نا پـېـژندل سوی نوم دی خو دا نوم هغه غلزي اوښبانه کاروي په ۱۹۰۵ز کال کې د «دن د مأموريت» [13] ملتيا ئـې کوله. په خپله کوتل او ګردچاپيره ګاونډی سيمه اوس د لخي په نوم پـېـژندل کـېـږي. (ميلسن)

* **لوکو**: [14] : ۴۲ – ۳۴، ۲ – ۶۹ «ن»: دا د کابل په ولايت کې د «حاجي پيک» [15] په شمال لويديځ کې يو کلی دی.

**لليدر**: وګورئ: لالي در

---

6 -LUKH
7 -Dara -i-Shorshori
8 -Talkhak
9 -LUKHAI
10 -Pezwan post,
11 -LUKHAI Or PEZWAN
12-Karkacha hills.
13 - Dane Mission
14 - LUKU
15 - Haji Payk

**لولــُـک:** [16] : دا د کافرستان په «سکوريګل» [17] کې د استوګني يوه اساسي سيمه ده چې د کوچنيو کورونو کلي ئـې په بې پروايي سره هر لور ته خوارهٔ وارهٔ پراتـهٔ دي. (رابرټسن)

**لوت دِهٔ:** وګورئ: برګمټال: ۴۰ – ۳۵، ۲۱ – ۷۱ «ن»

* **مابت خيل:** [18] :۴۴ – ۳۳، ۳ – ۶۹ «ن»: دا د پکتيا په ولايت کې د کابل – ګرديز د لويې لارې په سويل لويديځ کې او د «سپين کمر» : [19]: په شمال کې يو کلی دی.

**مچلګو: مچلغو:** [20]: ۴۷ – ۳۳، ۲۳ – ۶۹ «ن»: دا په زرمت کې يو کلی دی. دا کلی د ګرديز د شمال ختيځ په قريب ۱۷ مايلۍ کې د ميرزکي د کوتل له لارې کورم ته د تللي سړک په اوږدو کې واقع دی. استوګن وګړي ئـې په قوم «خوازک» [21] دي. دا يو لوی او حاصلخيزه ځای دی، د دې ځای تر اساسي کلي کلاګاني او کوچني کلي راتاو دي. (آی. بي.سي)

**مچلګو** :ــ۳۳، ــ ۶۹: دا يوه غرنی لړۍ ده چې د سليمان د غرني سيستم يوه څانګه ده چې له شترګردن کوتل څخه سويل لويديځ لور پراتـهٔ لري او د لوګر دره او خروار له زرمت څخه جلا کوي. (آی. بي. سي)

**مچمه:** [22]: لوړوالی: ۳۳۷۰ فيټه. دا د کونړ د سيند د يوې څانګې د غاړې په اوږدو په «ناړۍ ګل» [23] کې د شيخانو يو کلی دی چې ۹ کورونه لري او يو شمــېــر څيرې لري او يو مربع ديوال ترې راتاو دی. دا کلی د «ناړۍ ګل» د اساسي سيند له سره ۲۰۰ فيټه لوړ د يوهٔ نري اوږد او ټيټ مهميز په اوږدو کې ودان سوی دی؛ همدا مهميز دی چې اساسي دره له هغې تـنګې درې څخه جلا کوي چې مخه ئـې په «اروندوګل» (ارنوی) [24] کې په «اورومبروم» [25] منتهي کـېـږي. له کلي کښته او له کلي پورته په دواړو ځايونو کې کرهڼه سوې ده خو اکثريت پټي په هغې تـنګې درې کې دي چې په «اورومبروم» منتهي کـېـږي. (رابرټسن)

* **مدا خيل:** [26]: دا د ځمکنيو يوه علاقه ده. په دې نوم يو کلی د «ګبرتوی» [27] د سيند دغاړې په اوږدو کې د ځمکنيو د سويل په شاوخوا ځلور مايلۍ کې په ۴۶ – ۳۳، ۴۸ – ۶۹ «ن» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**مــَـدَر ډنډ:** [28] : ۳۴، ــ ۷۰: دا د جلال آباد په ولسوالي کې د پيزوان او جګدلک تر منځ يو ځای دی. د ۱۸۸۰ز کال د جون په مياشت کې يو پوځي پلټن دلته ځای پر ځای سو چې سړک د لوټمارو باندونو له تاړاکونو څخه خوندي وساتي،

---

16 - LULUK
17 -Skorigul in Kafiristan
18 -MABATKHEL
19 -Spin Kamar
20 -MACHALGU
21 -Khwazaks
22 -MACH I MMA
23-Narigul,
24 -Arundugul (Arnawai)
25 -Arombrom
26- MADA KHEL : ددغـهٔ نوم مخې ته ئـې په عربي الفباء «مده خيل» ليکلي دي دا بايد «مدا خيل» وي. او هم د ستوري * نښه ما ژباړونکي ايښې ده چې دا نوم او شرحه په خپله لودويګ آدمک ليکلی دی يعنې دا چې دا نوم د ګزيټر په پخوانيو چاپونو کې نه وو ـ ژ
27 -Gabrtoi stream
28 -MADARDAND


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

دغو ډلو تل کوچني پرغلونه کول او د تيلګراف د دوو پوستو تر منځ د تيلګراف د مزيو يا لاينونو ورانول د دوی کار وو.

(آی. بي. سي)

**مادرِ وزير**: [29] : ـ۳۴، ـ ۶۹: دا يوه کلا ده چي د کابل د چهاردهي په علاء الدين کي شامله ده؛ دلته د «ګدای هزاره ګانو» ديرش کورنی استوګني دي. (آی. بي. سي)

**مدينه وي**: آبِ مدينه وي :دا د هلمند د سيند يوه څانګه ده.

**مدوک بارک**: [30]: ۸ – ۳۴، ۳۶ – ۷۰ «ج»: دا د جلال آباد په ولسوالي کي د کوټ په علاقي کي د «کمال خيلو» [31] او «اندړاني بالا» [32] تر منځ يو کلی دی. استوګن وګړي: تــپــرايي.

**مدرسه** :۳۳ – ۷، ۳۲ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولايت کي د «مش خيلو» [33] په شمال لويديځ کي او د « جرکانه غر» [34] په سويل ختيځ کي يو کلی دی.

**مدګل**: [35] : دا د سياه پوش کافرانو يوه قبـيـلـه ده چي د کام او د باشګل د دری د کتـير تر منځ په يوي کوچنی او لنډکی سيمي کي ژوند کوي. دوی په دغو ۳ کليو کي استوګن دي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | بګال روم يا ممن | Bagalgrom or Muman |
| ۲ | ساسکو | Sasku |
| ۳ | من ګل | Mungul |

همدا شان دوی څو کوچني کلي هم لري. (رابرتسن)

* **مدو کڅ**: ۵ – ۳۳، ۵۵ – ۶۸ «ن»: دا د غزني د ښار شمال لويديځ ته د لاري په اوږدو کي جبارخيلو ته نبــږدي يو کلی دی.

* **مګر**: [36]: ۵۳ – ۳۲، ۱۶ – ۶۹ «ن»: دا د پکتيا په ولايت کي د اورګون په سويل ختيځ کي د «کيزواک» [37] د سيند د غاړي په اوږدو کي يو کلی دی.

**مګس**: [38]:ـ۳۳، ـ ۶۹: دا په خوست کي يو کلی دی او ويل کـبــږي چي د متون د شمال په ۸ مايلی کي واقع او ۱۲۰ کورونه لري. ويل سوي چي په دې کلي باندې يوه زړه کلا مسلطه ده؛ د همدې کلا په کنډوالو کي د لرغونو مهالونو مسکوکات وموندل سول. (آی. بي. سي)

29 -MADAR- I -WAZIR
30 -MADOK -BAROK
31 -Kamal Khel
32 -Andarani -i -Bala
33 -Mushkhel
34 -Jarkana Ghar
35-MADUGAL
36 -MAGAR
37 -Kizwak stream
38 -MAGAS


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

* **مغک**: [39]: ۲۶ – ۳۴، ۴۸ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د بهسودو په شمال لویدیځ کې د هلمند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

**ماهي ګیر**: ۵۷ – ۳۴، ۱۴ – ۶۹ «ن»: دا د بګرام په دښتې کې په همدې نامهٔ د یوهٔ نهر د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی. دا نهر ګوډ تیمور جوړ کړی وو؛ دا نهر د غوربند له سیند څخه په هغهٔ ټکي کې اخیستل سوی چې سیند له غرونو دباندې راوځي ؛ دا نهر لس مایله اوږدوالی لري او د «بایان» او «ماهي ګیر» د سیمو ځمکې خړوبوي. (میسن)

**ماهیـپـَر**: ۳۹ – ۳۴، ۴۲ – ۶۹ «الف»: دا نوم په تنګي غارو کې یوهٔ خړوبي «آبشار» ته اطلاق کـېـږي او په هغهٔ ټکي کې دی چې د کابل او د لوګر د سیندونو اوبهٔ په ګډه له ۹۰۰ فیټو څخه لړ لوړ ځای څخه را کوزېـږي. (میلسن)

* **محمود راقي**: ۰ – ۳۵ ، ۲۱ – ۶۸ : محمود راقي د کاپیسا یوه لویه ولسوالي وه چې اوس د پروان د ولایت ولسوالي ده. دا ولسوالي ۱۲۱ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې له ۹۹۲۸ تر ۱۰۹۹۹ تـنو پورې چې بزګري پرګني دي اټکل سوی دی. دا ولسوالي له ختیځ لوري له نجراب، له سویل لوري له کوهٔ صافي، له لویدیځ لوري له بګرام او چاریکارو او له شمال لوري له کوهستان سره کرښه لري. محمود راقي ۶۴ کلي لري چې یوازې یو کلی ئـې له ۵۰۰ تـنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عاشور خیل | Ashur Khel | قول گی | Kol Gai | عطاء الله خیل | | هروکي سفلی | Haroki Sufla |
| خانان خیل | | خدایار خیل | | خمِ روباه | Khum -i- Robah | داؤود خیل | |
| دربا فن؟ بافان؟ | Darba Fan | ډنګرخیل | Dangar Khel | دِهٔ بالي «دِهٔ بابي» | | Deh Bali, (Deh Babi) | |
| نصرت خیل «عزت خیل» | | دِهٔ بابا علي | | رحمن خیل | | قلعهٔ افغانان | |
| Qala Afghanan | | تاج محمد خیل | | رسول خیل | | سربند | |
| سور غل | Sor Ghal | عبدالله خیل | | شوخي | Shukhi | شهباز خیل | |
| قلعهٔ سید خان | | سیف الدین خیل | | عبادالله خیل «عبدالله خیل» | | عالم شیر خیل | |
| علي خیل | | سباح خیل | Sabah Khel | غازي خیل | | غني خیل | |
| قاضي خیل | | قروتک | | قازک | Qazak | قلاچه/ قلعچه | |
| قلعهٔ سفید | | کاکړي | Kakari | امام خیل | | جولایان | Jolayan |
| سورغونډی | Surghondi | زاغ گیر | | قلعهٔ شیرخان | | قلعهٔ ملک | |
| قولِ بابر | | قولِ شاغاسي | | کاکا خیل | | کالوته | Kalota |
| کوره تاز | Korataz | محمد عمر خیل | | محمود خیل | | مراد خواجه | |
| ملا خیل | | ملا زاده خیل | | ملا فقیر خیل | | سید | |
| سید میرخیل | | نظر خیل | | نو آباد | | ولي خیل | |
| هزاره | | ادو خیل | | هروکي علیا | | یارو خیل | |
| جمچي | Jamchi | شهباز خیل | | قریهٔ کوچي ها | | قلعهٔ مخر احمد؟ / مختار احمد؟ | |
| Qala -i -Mokher Ahmad, | | چنګه گي | Changagi | مشواني | | شاهي خیل | |

[39] -MAGHAK


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

**ماهریز:** [40] : ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د حصارک په علاقه داری کې د «مزینه» [41] د سویل – سویل لویدیځ په شاوخو ۲/۱ – ۶ مایلی کې په همدې نوم د سیند د غاړې په اوږدو یو کلی دی. له همدې ځایه دوه لارې د سپین غرۀ له سره تر کورم پورې تللي دي یوه ئې د «پاپـین» [42] او بله ئې د «اورګز» [43] د کوتل له لارې تللې ده. (آی. بي. سي)

**مای بولاق:** [44]: دا د غزني په ولسوالي کې یو کلی دی چې څه دباندې ۵۰۰ اندړ په کې اوسېږي. (براد فوټ)

**میدان: وردک:** ۲۷ ـ ۳۴، ۴۸ ـ ۶۸: دا د افغانستان په ختیځې مرکزي برخې کې یو ولایت دی چې ۹۶۹۹ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمېـر ئې له ۱۱۳۸۱۲ تر ۱۴۸۵۱۷ تنو تر منځ چې بزګري پرګنې دي اټکل سوی دی. دا ولایت له لویدیځ او شمال لویدیځ لورې له بامیانو، له شمال لورې له پروان، له ختیځ لورې له کابل او لوګر او له سویل لورې له غزني سره کرښه لري. وزدک په دغو ولسوالیو ویشل سوی دی:

| | |
|---|---|
| ۱ | بهسود ۱ او ۲ |
| ۲ | چکِ وردک |
| ۳ | سید آباد |
| ۴ | میدان ښار |

او په دغو علاقه داریو ویشل سوی دی:

| | |
|---|---|
| ۱ | جلریز |
| ۲ | نرخ |
| ۳ | دا میرداد |
| ۴ | جغتو |

د دې ولایت مرکز کوټي عشرو نومېږي. د کرهنې او اوبو لګولو د وزارت د احصائیې ریاست د دې ولایت د ولسوالیو لیستونه چمتو کړي دي او تاسو ئې په شپږو راتلونکو پاڼو کې ئې لیدلای سئ. (لودویګ آدمک)

40-MAHREZ
41-Mazina
42-Papin
43 -Orgaz
44 -MAI BOLAK


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




| د بزګرو وګړو او تر کښت لاندې ځمکو اټکل | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | کلي | بزګر وګړي | ځمکوال | ترکښت لاندې ځمکه په جریب | | | تر کښت لاندې ځمکه په هکتار | | |
| | | | | خړوبه | للمه | تول تال | خړوبه | للمه | تول تال |
| مرکز بهسود بهسود ۲ | ۱۴ | ۴۳۹۶۰ | ۳۳۸۰ | ۲۱۱۰۰ | — | ۲۱۱۰۰ | ۴۲۲۰ | — | ۴۲۲۰ |
| ګردن دیوال | ۳۶ | ۹۰۲۱۰ | ۷۳۲۰ | ۵۱۳۳۰ | ۵۴۲۰ | ۵۶۷۵۰ | ۱۰۲۶۶ | ۱۰۸۴ | ۱۱۳۵۰ |
| چرخ وردک | ۲۳ | ۵۰۱۳۰ | ۳۰۲۰ | ۶۶۷۰ | – | ۶۶۷۰ | ۱۳۳۴ | — | ۱۳۳۴ |
| سید آباد | ۴۳ | ۷۵۹۶۰ | ۴۶۰۰ | ۹۰۰۰ | ۳۴۰۰ | ۱۲۴۰۰ | ۱۸۰۰ | ۶۸۰ | ۲۴۸۰ |
| میدان بنار | ۱۰ | ۲۰۱۳۰ | ۳۲۹۰ | ۶۴۹۰ | — | ۶۴۹۰ | ۱۲۹۸ | — | ۱۲۹۸ |
| جغتو | ۱۷ | ۲۱۱۸۰ | ۱۲۹۰ | ۶۶۸۰ | — | ۶۶۸۰ | ۱۳۳۶ | — | ۱۳۳۶ |
| جلریز | ۱۲ | ۳۲۷۹۰ | ۳۰۷۰ | ۶۱۳۰ | — | ۶۱۳۰ | ۱۲۲۶ | — | ۱۲۲۶ |
| دای میرداد | ۱۴ | ۲۶۱۹۰ | ۹۸۰ | ۵۰۹۰ | — | ۵۰۹۰ | ۱۰۱۸ | — | ۱۰۱۸ |
| نرخ | ۱۴ | ۲۲۱۹۰ | ۲۴۸۰ | ۱۵۵۲۰ | ۲۵۰ | ۱۵۷۷۰ | ۳۱۰۴ | ۵۰ | ۳۱۵۴ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تول ټال | ۱۸۳ | ۳۸۲۷۴۰ | ۲۹۴۳۰ | ۱۲۸۰۱۰ | ۹۰۷۰ | ۱۳۷۰۸۰ | ۲۵۶۰۲ | ۱۸۱۴ | ۲۷۴۱۶ |

| د مالداری احصائیوي اټکل په ولسوالي او علاقه داری | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | پسونه | قره قل پسونه | وزې | غواګانې | ګاومیښې | اوښان | آسونه | خرونه | کچرې | چرګان |
| مرکز بهسود بهسود ۲ | ۶۸۹۹۰ | — | ۴۳۰۰ | ۱۰۶۰۰ | — | ۱۳۰ | — | ۶۴۹۰ | — | ۲۹۳۳۰ |
| ګردن دیوال | ۱۱۲۵۰۰ | — | ۸۱۴۰ | ۲۴۷۸۰ | — | ۲۶۰ | — | ۱۶۸۴۰ | — | ۳۲۹۰۰ |
| چرخ وردک | ۲۴۳۰ | — | ۲۶۷۰ | ۳۲۹۰ | — | — | — | ۱۲۸۰ | — | ۴۶۷۶۰ |
| سید آباد | ۴۳۳۰ | — | ۳۴۴۰ | ۷۳۶۰ | — | — | — | ۳۶۲۰ | — | ۴۹۴۵۰ |
| میدان ښار | ۱۸۰۰ | — | ۹۲۰ | ۱۸۷۰ | — | ۲۰ | — | ۲۰۷۰ | — | ۲۲۹۹۰ |
| جغتو | ۳۵۶۰ | — | ۹۷۰ | ۳۲۱۰ | — | — | — | ۳۰۹۰ | — | ۳۳۵۰۰ |
| جلریز | ۴۳۲۰ | — | — | ۳۳۶۰ | — | ۳۰ | — | ۳۷۶۰ | — | ۳۴۳۷۰ |
| دای میرداد | ۵۵۷۰ | — | ۴۸۷۰ | ۲۰۶۰ | — | — | — | ۳۱۵۰ | — | ۲۶۲۳۰ |
| نرخ | ۳۸۵۰ | — | ۴۲۹۰ | ۳۳۹۰ | — | ۱۰ | — | ۲۲۶۰ | — | ۱۷۸۲۰ |
| تول ټال | ۲۰۷۳۵۰ | — | ۲۹۶۰۰ | ۵۹۹۲۰ | — | ۴۵۰ | — | ۴۲۵۶۰ | — | ۲۹۳۳۵۰ |

| د کرنیزو محصولاتو تولید په کابلي سیر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | غلات | | | نور محصولات | | | میوې |
| | خړوبه | للمه | تول ټال | سابـهٔ | صنعتي محصولات | نور مؤقت محصولات | |
| مرکز بهسود بهسود ۲ | ۷۱۱۲۰۰ | — | ۷۱۱۲۰۰ | ۴۶۵۳۰۰ | — | ۳۷۷۲۰۰ | ۱۵۰۸۸۰ |
| ګردن دیوال | ۱۸۲۸۰۰۰ | ۳۴۹۷۰ | ۱۸۶۲۹۷۰ | ۱۱۳۲۵۶۰ | — | ۴۶۰۰۰۰ | ۳۷۱۶۸۰ |
| چرخ وردک | ۲۴۹۶۰۰ | — | ۲۴۹۶۰۰ | ۶۷۳۲۰ | — | ۵۵۲۰۰ | ۴۶۰۰۰ |
| سید آباد | ۳۲۴۸۰۰ | ۲۱۷۱۰ | ۳۴۶۵۱۰ | ۱۵۰۴۸۰ | ۳۵۰۰ | ۱۴۴۹۰۰ | ۵۱۵۲۰ |
| میدان ښار | ۲۰۳۶۰۰ | — | ۲۰۳۶۰۰ | ۲۸۵۱۲۰ | ۱۷۵۰ | ۵۵۲۰۰ | ۹۲۰۰۰ |
| جغتو | ۲۵۰۴۰۰ | — | ۲۵۰۴۰۰ | ۱۴۶۵۲۰ | — | ۲۰۷۰۰ | ۴۶۰۰۰ |
| جلریز | ۱۹۳۶۰۰ | — | ۱۹۳۶۰۰ | ۲۶۹۲۸۰ | — | ۱۰۵۸۰۰ | ۴۳۳۲۰ |
| دای میرداد | ۱۷۴۸۰۰ | — | ۱۷۴۸۰۰ | ۱۵۶۴۲۰ | — | ۴۱۴۰۰ | ۵۷۰۴۰ |
| نرخ | ۵۴۰۰۰۰ | ۱۸۲۰ | ۵۴۱۸۲۰ | ۳۴۲۵۴۰ | ۱۷۵۰ | ۲۷۶۰۰۰ | ۴۲۳۲۰ |
| تول ټال | ۴۴۷۶۰۰۰ | ۵۸۵۰۰ | ۴۵۳۴۵۰۰ | ۳۰۱۵۵۴۰ | ۷۰۰۰ | ۱۵۳۶۴۰۰ | ۸۹۹۷۶۰ |

| خړوبې ځمکې او د خړوبولو سرچینې | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | ساحه په جریب | | | | تول ټال | د سرچینو شمـېـر | | | | د اوبو ژرندې |
| | نهرونه | چینې | کاریزونه | څاهان | | نهرونه | چینې | کاریزونه | څاهان | |
| مرکز بهسود بهسود ۲ | ۱۶۹۵۰ | ۴۱۵۰ | — | — | ۲۱۱۰۰ | ۳۹ | ۳۷ | — | — | ۱۲۱ |
| ګردن دیوال | ۲۶۵۴۰ | ۲۴۷۹۰ | — | — | ۵۱۳۳۰ | ۱۲۴ | ۱۴۲ | — | — | ۲۸۳ |
| چرخ وردک | ۲۳۷۰ | ۲۱۹۰ | ۲۱۱۰ | — | ۶۶۷۰ | ۷۳ | ۱۸ | ۳۲ | — | ۶۹ |
| سید آباد | ۴۱۲۰ | ۲۴۰۰ | ۲۴۸۰ | — | ۹۰۰۰ | ۱۲۲ | ۱۳۶ | ۱۴۴ | — | ۸۹ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| میدان ښار | ۶۴۷۰ | ۲۰ | — | — | ۶۴۹۰ | ۲۷ | ۲ | — | — | ۴۲ |
| جغتو | — | ۵۴۳۰ | ۱۲۵۰ | — | ۶۶۸۰ | ۴۶ | ۷۷ | ۱۰۴ | — | ۵۳ |
| جلریز | ۵۶۷۰ | ۳۳۰ | ۱۳۰ | — | ۶۱۳۰ | ۴۶ | ۱۵ | ۵ | — | ۵۵ |
| دای میرداد | ۱۶۱۰ | ۱۶۸۰ | ۱۸۰۰ | — | ۵۰۹۰ | ۶۲ | ۲۸ | ۱۰ | — | ۶۳ |
| نرخ | ۱۰۹۱۰ | ۲۴۸۰ | ۲۱۳۰ | — | ۱۵۵۲۰ | ۵۰ | ۶۴ | ۴۱ | — | ۴۷ |
| ټول ټال | ۷۴۶۴۰ | ۴۳۴۷۰ | ۹۹۰۰ | — | ۱۲۸۰۱۰ | ۵۸۹ | ۵۱۹ | ۳۳۶ | — | ۸۲۲ |

| | د کښت وړ ځمکو ټولټال، د محصول پر بنسټ په کابلي جریب | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | غلات | | | سابـهٔ | صنعتي محصولات | نور محصولات | میوې | د کښت وړ ځمکو ټول ټال |
| | خړوبه | للمه | ټول ټال | | | | | |
| مرکز بهسود بهسود ۲ | ۱۷۷۸۰ | — | ۱۷۷۸۰ | ۲۳۵۰ | — | ۱۶۴۰ | ۸۲۰ | ۲۲۵۹۰ |
| گردن دیوال | ۴۵۷۰۰ | ۲۶۹۰ | ۴۸۳۹۰ | ۵۷۲۰ | — | ۲۰۰۰ | ۲۰۲۰ | ۵۸۱۳۰ |
| چرخ وردک | ۶۲۴۰ | — | ۶۲۴۰ | ۳۴۰ | — | ۲۴۰ | ۲۵۰ | ۷۰۷۰ |
| سید آباد | ۸۱۲۰ | ۱۶۷۰ | ۹۷۹۰ | ۷۶۰ | ۱۰۰ | ۶۳۰ | ۲۸۰ | ۱۱۵۶۰ |
| میدان ښار | ۵۰۹۰ | — | ۵۰۹۰ | ۱۴۴۰ | ۵۰ | ۲۴۰ | ۵۰۰ | ۷۳۲۰ |
| جغتو | ۶۲۶۰ | — | ۶۲۶۰ | ۷۴۰ | — | ۹۰ | ۲۵۰ | ۷۳۴۰ |
| جلریز | ۴۸۴۰ | — | ۴۸۴۰ | ۱۳۶۰ | — | ۴۶۰ | ۲۳۰ | ۶۸۹۰ |
| دای میرداد | ۴۳۷۰ | — | ۴۳۷۰ | ۷۹۰ | — | ۱۸۰ | ۳۱۰ | ۵۶۵۰ |
| نرخ | ۱۳۵۰۰ | ۱۴۰ | ۱۳۶۴۰ | ۱۷۳۰ | ۵۰ | ۱۲۰۰ | ۲۳۰ | ۱۶۸۵۰ |
| ټول ټال | ۱۱۱۹۰۰ | ۴۵۰۰ | ۱۱۶۴۰۰ | ۱۵۲۳۰ | ۲۰۰ | ۶۶۸۰ | ۴۸۹۰ | ۱۴۳۴۰۰ |

| د کښت وړ ځمکو ټول ټال په کابلي جریب | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | ټولټال | پووندي | ځنګلونه | تر کښت لاندې | هغه ځمکې چې یو کال کرل کېـږي او بل کال ته نه کرل کېـږي |
| مرکز بهسود بهسود ۲ | ۸۴۲۵۰ | ۶۳۰۹۰ | ۶۰ | ۲۱۱۰۰ | ۴۲۲۰ |
| گردن دیوال | ۱۶۱۵۹۰ | ۱۰۴۸۴۰ | — | ۵۶۷۵۰ | ۱۲۹۴۰ |
| چرخ وردک | ۱۹۶۲۰ | ۱۲۹۵۰ | — | ۶۶۷۰ | ۱۳۳۰ |
| سید آباد | ۲۶۸۵۰ | ۱۴۳۵۰ | ۱۰۰ | ۱۲۴۰۰ | ۳۵۰۰ |
| میدان ښار | ۲۰۸۴۰ | ۱۴۳۵۰ | — | ۶۴۹۰ | ۱۳۰۰ |
| جغتو | ۲۰۴۶۰ | ۱۳۷۷۰ | ۱۰ | ۶۶۸۰ | ۱۳۳۰ |
| جلریز | ۲۰۴۹۰ | ۱۴۳۳۰ | ۳۰ | ۶۱۳۰ | ۱۲۲۰ |
| دای میرداد | ۲۰۰۲۰ | ۱۴۹۳۰ | — | ۵۰۹۰ | ۱۰۲۰ |
| نرخ | ۲۹۷۶۰ | ۱۳۹۹۰ | — | ۱۵۷۷۰ | ۳۲۴۰ |
| ټول ټال | ۴۰۳۸۸۰ | ۲۶۶۶۰۰ | ۲۰۰ | ۱۳۷۰۸۰ | ۳۰۱۰۰ |

دا ولایت په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی:

د میدان ولسوالي د کابل د سیند پورتـنۍ برخه په ځان کې رانغاړي او د کابل د ښار په ۲۰ مایلۍ کې غځون مومي. د میدان په سویل کې وردک دی چې د غزني یوه برخه ده، په لویدیځ کې ئـې بهسود او شیخ علي دي چې د هزاره گانو سیمي دي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

او په ختیځ کې ئې د کابل او لوګر ولسوالي دی. د میدان ځمکې په ډېـر ښـۀ ډول سره خړوبې سوي دي او بې شمـېـره کلي او کلا ګاني لري. له میدان څخه د انسان او د څاریو هر ډول اړتیا توکي په پریمانه ډول تر لاسه کیدای سي، دا اړتیا توکي دومره ډېـر دي چې د وګړو اړتیا پوره کوي او هم دلته د اوښ خوراک توکي پریمانه دي. دلته د «باقلي» په نوم یو عجیب بوټی سته چې ډېـر پریمانه شین کـېـږي، باقلي د عربي آس لوبیا وو ته ورته دي او کله چې مات سي د آس لپاره فوق العاده عالي خوراک ورڅخه جوړیږي. د میدان د ولسوالي د استوګنو سیمو د لوړوالي اوسط اندازه ۷۵۰۰ فیته ده. د میدان اکثریت استوګن وګړي عمرخیل غلزي دي. د میدان د درې په ختیځې برخې کې چې ډېـره تنګه ده او د مدافعې لپاره ښه محاسبه سوې برخه ده د «سرِ سنګه / څانګه» [45] په نوم یوه زړه کلا ده. ښاغلی هف فکر کوي چې دا د غزني او کابل تر منځ تر ټولو پیاوړی استحکامي ځای دی، د دې ځای لوړوالی په خپله یو مسلط موقعیت دی، خو شا ته ئې ځمکه د سپارۀ ځواک لپاره ښـه نـۀ ده. خو که کوم قطار له ښي لاس څخه پرمختګ وکړي کولای سي د همدې موقعیت د شا له لارې راسي او بیا په غرونو وخېـږي. د ۱۸۴۲ز کال د سپتمبر د میاشتې په شپاړلسمي نیټې جنرال نات، شمس الدین خان ته چې له خپلو ۱۲۰۰۰ تنو جنګیالیو سره ئې د غرونو د سرونو موقعیتونه نیولي ول او کابل ته د جنرال د مارش د لارې مخه ئې نیولې وه، ماته ورکړه.

د اساسي درې سویل لور ته یوه کوچنی جلا سوې دره ده چې د نرخ په نوم یادېـږي. نرخ ته د ننوتلو لاره له ختیځ لوري ده ځکه نورو خواوو ته ئې غرونه دي. زموږ سرتـیـري په ۱۸۷۹ز کال کې نرخ ته لاړل او یو شمـېـر کلي ئې وران کړل.

د ۱۸۷۹ – ۱۸۸۰ز کال د افغان جګړې په لړ کې «میدانیانو» [46] د برتانویانو پر وړاندې ښکاره او برالا دښمني کوله او محمد جان وکولای سول چې د میدانیانو له منځه هغه مهال د جنګیالیو لویه ډله راټوله کړي د ۱۸۷۹ز کال د دسمبر په میاشت کې ئې د شیرپور پر لور پرمختګ وکړ. (میسن، هف، هفلاک، مورکرافت، کمپبل، آی. بي. سي)

«میدان تقریباً ۹۰۰۰ کورونه لري چې د غلزیو لاندنی څانګې په کې استوګنې دي خو په دوی ټولو کې امرخیل تر نورو ټولو د خپل شمار له اړخه ډېـر دي:

| امرخیل | اسمعیل خیل | ابراهیم خیل | پیارو خیل |
|---|---|---|---|
| پاینده خیل | څن زیي | رستم خیل | اسماعیل خیل ؟ / تکرار راغلی دی |

همدا شان په میدان کې د تاجیکانو ۳ کلي هم سته په لاندې ډول:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | زلرد؟ | Zalred |
| ۲ | تکانه | Takana |
| ۳ | سرِ چشمه | |

دغو دریوارو کلیو کې نبـږدې ۱۰۰۰ کورنۍ ژوند کوي. د میدان مالیاتي عواید دوه لکه روپۍ دي.» (ملوی)

د اونۍ د کوتل له لارې د کابل – بامیانو سړک له میدان څخه له ختیځه مخ پر لویدیځ تـېـرېـږي. دا سړک د هر ډول وسلو د وړلو لپاره عملي دی خو د دې لپاره چې د عرابه لرونکو وسایطو د تګ لپاره مناسب وګرځول سي لږ کار ته اړتیا

45 -Sar- i- Sanga
46 -Maidanis


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په غیر و لولـئ

لري. د کابل – غزني سړک د ميدان له شماله تر سويله پورې له ميدان څخه تېرېږي. په ۱۸۸۰ز کال کې د توپچي ځواک درانده توپونه له همدې لارې تېر سول. د غلام حيدر خان ورارۀ، فيض محمد اوس مهال د ميدان حاکم دی. (آی. بي. سي)

د ميدان نوم د کابل د سيند د درې برخې له کوتې عشرو څخه نيولې بيا د لوګر د تنګې تر سر پورې سيمې ته هم اطلاق کېږي. (ونليس)

* **ميدان**: ۴۲ – ۳۴، ۱۴ – ۷۰ «ج»: دا د لغمان په ولايت کې د تيرګړهيو د شمال ختيځ په شاوخوا ۴ مايلی کې يو کلی دی.

**ميدان خوني**: [47] :لوړوالی: ۱۱۸۳۰ فيټه. دا د «کاوشان» [48] په تنګي کې د دمې نيولو يو ځای دی چې د غوربند له درې سره د يو ځای کيدلو له ټکي څخه ۲/۱ – ۱۷ مايله پورته د هغۀ سړک د غاړې په اوږدو کې واقع دی چې د کاوشان د کوتل له لارې د خنجان په درې منتهي کېږي. په ميدان خوني کې کوم کلی نۀ سته؛ دا ځای د سړک او د سيند تر منځ يوازې يوه لوړه سطحه ده. دلته د يوۀ غنډ لپاره ځای سته چې کمپ ووهي او ډېرې بښې او پريمانه اوبۀ هم لري؛ سون توکي هم سته خو يوازې د خوراک د پخولو لپاره سته؛ له تنګي څخه کوز اړتيا توکي تر لاسه کېږي خو په لږه اندازه. ويل سوي چې د دې ځای نوم ځکه ميدان خوني بلل کېږي چې يو وخت يو شمېر سرتيري دلته د واورو د توفان له کبله له منځه لاړل.

له ميدان خوني يو مايل پورته د کاوشان له تنګي سره له شمال لويديځ لوري د «چاګلاويز؟» [49] تنګی سره يو ځای کېږي؟. (آی. بي. سي)

**ميدان پای کوتل**: ـ۳۴، ـ ۶۷ : لوړوالی: ۱۰۲۰۰ فيټه. دا نوم په سيمه ييز ډول د کابل – هزاره جاتو – دولت يار عمومي سړک د غاړې په اوږدو کې د دمې نيولو يوۀ ځای ته اطلاق کېږي چې له کابله ۲/۱ – ۱۰۱ مايله او له دولت يار څخه ۴/۱ – ۱۳۰ مايله ليرې موقعيت لري.

* **ميدان ښار**: ۲۷ – ۳۴، ۴۸ – ۶۸: ميدان ښار د ميدان «وردک»

* **ميدان ښار**: ۲۷ – ۳۴، ۴۸ – ۶۸: ميدان ښار د ميدان «وردک» په ولايت کې يوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۳۵۱ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمېر ئې له ۶۷۰۸ تر ۱۴۰۵۷ تنو پورې چې بزګرې پرګنې دي اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لويديځ او شمال لويديځ لوري له جلريز، شمال لوري له پغمان او له سويل لوري له محمد آغې او نرخ سره کرښه لري. ميدان ښار ۱۱۰ کلي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پيارو خيل | عبدالرشيد کلا | اسماعيل کلا | بلال خيل |
| سکندر کلا | عبدالودود کلا | لالو خيل کلا | محمد خيل |
| عبدالعزيز کلا | جاني خيل | ابراهيم خيل | قلعۀ فرزائيل |

47-MAIDAN- I -KHUNI
48-Kaoshan glen
49-Chagalawez glen


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| Qala -i- Farzail | يار محمد کلا | ماشي خيل Mashi Khel | ګل احمد خيل |
| قلعۀ کشمـيـري | حاجي محمد اکبر کلا | آخوند زاده کلا | عبدالودود کلا |
| محمد رحيم کلا | محمدعثمان کلا | قلعۀ ملک | قلعۀ زيارت |
| محمد عمر کلا | محمد ايوب کلا | احمد جان کلا | قلعۀ آخوند زاده |
| څين زيبو کلا | نظرخيلو کلا | قلعۀ بهادر | قلعۀ دلاور |
| خدای نور | شيرين دل | دِهٔ افغانانو کلا | زين العابدين کلا |
| قلعۀ کهنه | شهباز کلا | محمد صديق کلا | قلعۀ دِهٔ افغانان |
| قلعۀ ملک محمد هاشم | قلعۀ کوچي ها | قريۀ زبداغ Qarya- i- Zebdagh | سيد عالم کلا |
| نهرِ فولاد | قلعۀ پهلوان | قلعۀ ملک نور محمد | قلعۀ غلام جان |
| لښکر کلا | رستم خيل او چرکه | قريۀ نائب قباد | قلعۀ عشرت |
| والۀ تسليم | عبدل کلا | نور خان خيلو کلا | عثمان کلا |
| عبدالجليل کلا | حاجي خان ګل کلا | شهباز کلا | آخوند خيلو کلا |
| کوټه عشرو خيلو کلا | ملا خيلو کلا | مامي خيل | لندي خيل |
| مرو خيل | سنګر خيل چرخه | قلعۀ لغماني خروټي | مهمندو کلا |
| عمرا خان کلا | قومِ عيدو خيل | کهنه خمار | قريۀ عبدالجبار |
| ګنده Ganda | قلعۀ برج | درۀ عالمي Dara -i -Alimi | قلعۀ کهنه |
| قلعۀ غلام محمد | قلعۀ فتح | قلعۀ آهنګران | قلعۀ نو |
| قريۀ امر خيل | قريۀ غلام حيدر | قريۀ آخوند زاده | بادين خيل Badin Khel |
| قلعۀ محمد هاشم | خان شيرين کلا | قلعۀ مولوي | قلعۀ سيد غلام |
| ناسوزيو کلا | قلعۀ ولايت | بسراقِ چارکه | Busraq -i- Charaka |
| چار قلا | قلعۀ کاريز | قلعۀ نعمانِ نور خيل | قلای نو |
| قلعۀ شيرخان | قلعۀ خواجه خيل | قلعۀ عبدالحکيم | قلعۀ نګان Qalai- Negan |
| قلعۀ بازي Qala -i -Bazi | قريۀ احمد خان | کر لوري خيل ؟ | Ker Lori Khel |
| قلعۀ ميرکی | قلای حاجي مُشکو | قلعۀ سياه پيتاب | Qala -i -Siyah Pitab |
| قلعۀ محمد سرور | قلعۀ اسد خان | اول خيل | |

**مای مای**: [50]: دا په «سۀ پای دايزنګي هزاره ګانو» [51] کې د «قره قل داغي» [52] د څانګي د استوګني يوه سيمه ده.

**ماماى:** آبِ مای مای: وګورئ: آجرستان

**مجاب**: [53]: دا يوه دره چې د اوبو د راکوزيدلو مخه ئې مخ پر شمال ختيځ ده چې د دای ميرداد له منځه د لوګر د سيند پر لور تللي ده.

**ماجرين: مهاجرين - ژ**: دا اصطلاح په افغانستان کې هغو کډوالو ته اطلاق کېږي چې په هيواد کې ميشت سوي دي. (پيرت) د دې اصطلاح د ليکلو صحيح بڼه مهاجرين ده. (لودويګ آدمک)

**مجل**: [54]: دا د اليشنګ په درې کې له جلال آباد څخه ۸۸ مايله ليرې فرجغان ته د لارې په اوږدو کې يو کلی دی. دې کلي کې د پشه ئيانو ۳۰۰ کورونه دي. (ليچ)

---

[50]-MAIMAI
[51]-Sehpai Dai Zangi Hazaras.
[52]-Qaraqul-daghi
[53]-MAIMAI
[54]-MAJIL


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**مکنک**: [55]: دا د پولاده هزاره گانو یوه څانګه ده.

**مَـخـبـِـل**: وګورئ: مـُـخـبـل

* **مخدوم**: ۸ ـ ۳۴، ۳۱ ـ ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کي په «چک ِ وردک» کي په درهٔ جلګه کي یو کلی دی.

**مکني:** وګورئ: پنجشیر

**مقصود**: دا د بهسود هزاره ګانو یوه څانګه ده.

**ماکو:** دا د غزني په لویدیځ کي په غرنی لړی کي یو له اساسي غرونو څخه دی. (مستینګ)

* **ماکوله**: ۵۴ ـ ۳۴، ۳۹ ـ ۶۸ «ن»: دا د پروان په ولایت کي د سرخ و پارسا د سویل په شاوخوا ۲ مایلی کي د غوربند د سیند د یوې څانګي دغاړې په اوږدو کي یو کلی دی.

**مالا زي : مَلا زي**: [56]: ۶ ـ ۳۵، ۲۲ ـ ۶۹ «ج»: دا د پنجشیر په پورتنی دری کي د پنجشیر د سیند د ښی غاړې په اوږدو کي له عنابي نیم مایل کوز یو کلی دی چي د تاجیکانو ۲۰ کورونه په کي دي. دلته راغلی سړک کیڼ لاس ته تاوېـږي چي له سیند څخه تیـر سي، او وراندي په بلي غاړې کي په «ګردن چتهه» [57] باندي ورخېـږي. وګورئ: فراج. [58]
د ۱۸۸۶ ز کال د اکتوبر په میاشت کي سیند په دې ټکي کي ۶۰ یارډه ارت او ۲ فیټه ژور وو چي له جغلو ډک بستر ئـي درلود خو بستر کي ئـي غټي ډبري نـهٔ وې. د سیند غاړې ټیټي او آسانه دي او توپچي ځواک ورڅخه پرته له کومي ستونزې تـیریدای سي. (شهزاده تیموس)

نور بیا

**ملکدان:**: دا په «برمل» کي

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټوٓ: ټولي برخي لوستی شئ.

---
55-MAKANAK
56-MALAZAI
57-Gardan Chatha
58-Firaj


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ